مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نویسنده: ن . جلیل زاد ۲۰۲۶/۰۱/۲۳

# افغانستان د نړۍ په نادر جیوپولیتیک موقعیت کې پروت دی

جغرافیه خپله نه د نعمت ضمانت کوي او نه د مصیبت, دا د انسان، دولت او ستراتیژۍ په لاس کې ده چې له هغې نه «فرصت» جوړ کړي او که «تهدید»
درې سترې تمدني او قدرتي ساحې, سویلي آسیا، منځنۍ آسیا او د فلات ایران حوزه, په کې سره نښلي . دا موقعیت افغانستان یوازې د «دوو نیمه وېشوونکو قارو د نښلونکي سرزمین» په توګه نه تعریفوي، بلکې هغه ته د داسې احتمالي «ستراتیژیک دهلېز» رول ورکوي چې کولای شي د سیمې په راتلونکي نظم کې محوري ځای ولري .
خو همدا جغرافیه، که په هوښیارۍ او تدبیر سره اداره نه شي، له فرصته په تهدید بدلېږي او افغانستان د همکارۍ له پله نه، بلکې د قدرتونو له دښمن ځای او سیالۍ له میدان څخه تعریفوي, هغه څه چې په تېرو لسګونو کلونو کې بیا بیا تکرار شوي دي.
اساسي پوښتنه دا ده, که افغانستان د خپل ترانزیټي موقعیت څخه، د دوو نیمه قارو د نښلونکي په توګه، ګټه وانخلي، کوم هېوادونه به زموږ ځای ونیسي او د انرژۍ، سوداګرۍ او سیمه ییز اتصال په لویو لارو کې به د افغانستان پر ځای څوک کېني؟ او د دې غفلت ستراتیژیک او تاریخي پایله به د راتلونکو نسلونو لپاره څه وي؟
له دې نه هم ژوره پوښتنه دا ده چې ایا افغانستان کولای شي خپله جغرافیه له «د قدرتونو د سیالۍ له میدان» څخه «د اقتصادي همکارۍ په پُل» بدله کړي، او که هو، نو کوم ډول سیاسي, اقتصادي جوړښت ته اړتیا ده چې دا بدلون له شعار نه، په عیني واقعیت بدل کړي؟
که افغانستان د خپل ترانزیټي موقعیت د فعالولو په برخه کې پاتې راشي، لومړني هېوادونه چې د هغه ځای به ډک کړي، ایران، پاکستان، د منځنۍ آسیا هېوادونه او ترکیه دي. ایران د چابهار بندر، د رېل پټلۍ د شبکو او د هند له پانګونې سره، په تدریج سره د هند, منځنۍ آسیا د بدیل دهلېز په توګه راڅرګندېږي. که څه هم د افغانستان له لارې لاره جغرافیایي لنډون لري، خو د ایران نسبي ثبات او زیربنایي پانګونې هغه ته د باور وړ بدیل بڼه ورکوي. پاکستان بیا د چین, پاکستان اقتصادي دهلېز او د ګوادر بندر له لارې هڅه کوي چې د چین، خلیج او لوېدیځې آسیا تر منځ د اصلي دهلېز په توګه ځان تثبیت کړي .
که افغانستان خپل ترانزیټي ظرفیتونه فعال نه کړي، پاکستان به په تدریج سره د هغه رول جذب کړي چې افغانستان یې په طبیعي توګه لرلای شو. په منځنۍ آسیا کې ترکمنستان، ازبکستان او قزاقستان په چټکۍ سره د رېل او سړک شبکې پراخوي چې له افغانستان پرته یې له ایران، قفقاز، ترکیې او اروپا سره نښلوي .
د ترانس‌کاسپین منځنۍ دهلېز هغه نمونه ده چې منځنۍ آسیا د خزر له لارې قفقاز او بیا ترکیې او اروپا ته تړي .
که افغانستان ونه شي کولای چې د منځنۍ آسیا او سویلي آسیا تر منځ د طبیعي نښلونکي په توګه خپل رول تثبیت کړي، سیمه به په بشپړ ډول د بدیلو لارو پر لور ولاړه شي او افغانستان به له ستراتیژیک نقشه‌لیک څخه د ترانزیټ په برخه کې حاشیې ته ټیل وهل کېږي.
د دې حاشیې ته تګ زیان یوازې اقتصادي نه دی, ژیوپولیتیکي دی . هغه هېواد چې د سوداګرۍ او انرژۍ په لویو لارو کې نه وي، په ستراتیژیکو محاسبو کې هم وزن له لاسه ورکوي .
افغانستان که د خپل موقعیت له امله د ترانزیټي محور په توګه ځان ثابت نه کړي، د سیمې په قدرتي معادلو کې به د یو فعال لوبغاړي پر ځای، د یو مصرفي او حاشیوي واحد په توګه تعریف شي . د دې حالت پایله به د راتلونکو نسلونو لپاره د دوامدارې بې روزګارۍ، د زیربنایي شاتګ، د سیاسي وابستګۍ او د ټولنیزو درزونو ژوربدل وي.
خو دویمه پوښتنه، چې د راتلونکي افق ته اشاره کوي، دا ده: ایا افغانستان کولای شي خپله جغرافیه له «د قدرتونو د سیالۍ له میدان» څخه «د اقتصادي همکارۍ په پُل» بدله کړي؟ د دې پوښتنې ځواب د درېیو بنسټیزو محورونو پورې تړلی دی: سیاسي جوړښت، اقتصادي جوړښت او بهرنۍ تګلاره. په سیاسي کچه، افغانستان داسې نظام ته اړتیا لري چې داخلي مشروعیت، نسبي ثبات او د پرېکړې وړتیا ولري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هېڅ هېواد نشي کولای د ترانزيټي دهلېز رول ولوبوي، تر څو چې دولت يې د امنيت د تأمين، د قراردادونو د تضمين او د سيمه‌ييزو شريکانو د باور د جلب وړتيا ونه لري .
افغانستان په تېرو څلورو لسيزو کې ډېرى انرژي د بقا په مبارزه کې مصرف کړې، نه د پرمختګ په ستراتيژۍ کې .
د دې لپاره چې له ميدان څخه پُل ته واوړي، بايد له عکس‌العمل محوره سياست څخه مخکښ، تدبيري او ستراتيژيک سياست ته انتقال وکړي . دا کار يوازې هغه وخت ممکن دى چې يو ټول‌شموله، قانون‌محور، حساب‌ورکوونکى او د ملي ګټو پر محور ولاړ سياسي جوړښت رامنځته شي, داسې جوړښت چې د ډلې، قوم او شبکې پر ځاى د ملت، جغرافيا او راتلونکي پر محور فکر وکړي.
په اقتصادي کچه، افغانستان بايد له مصرفي، وارداتي او مرستې محور اقتصاد څخه د توليدي، ترانزيټي او سيمه محور اقتصاد پر لور حرکت وکړي . دا بدلون د زيربناوو په پراخې پانګونې پورې تړلى دى: سړکونه، رېل پټلۍ، وچ بندرونه، د انرژۍ شبکې، معياري ګمرکات او د لوژستيک مرکزونه . پرته له دې، هېڅ سيمه ييز يا نړيوال لوبغاړى حاضر نه دى چې افغانستان د خپلو سوداګريزو او انرژيتيکو دهلېزونو د اصلي مسير په توګه ومني .
د هغو هېوادونو تجربه چې په برياليتوب سره يې د ترانزيټي محور رول خپل کړى, لکه ترکيه، سنګاپور او حتا ځينې منځنۍ آسيايي هېوادونه, ښيي چې جغرافيه يوازې هغه وخت په فرصت بدلېږي چې د زيربنا په ژورې پانګونې او د ادارې په وړتيا مل وي .
افغانستان، سره له دې چې طبيعي موقعيت يې بې سارى دى، لا هم له يوې منسجمې رېل‌پټلۍ بې برخې دى, داسې شبکه چې وکولاى شي هېواد له ايران، پاکستان، منځنۍ آسيا او چين سره په مستقيمه او مؤثره توګه ونښلوي.
په بهرنۍ تګلارې کې، افغانستان بايد له تک محوره، وابسته او واکمن محوره سياست څخه د متوازن، څو بعدي او فعال سياست پر لور حرکت وکړي . هغه هېواد چې غواړي د همکارۍ پُل وي، بايد له ټولو سيمه‌ييزو قدرتونو سره, ايران، پاکستان، هند، چين، روسيه او د منځنۍ آسيا هېوادونه, په متوازن، حساب‌شده او د متقابلو ګټو پر بنسټ اړيکې ولري . دا توازن د بې طرفۍ له سستې معنا سره توپير لري, دلته خبره د داسې ديپلماسۍ ده چې د رقابت له انرژۍ، د خپل هېواد د ګټې لپاره کار واخلي، نه دا چې قرباني يې شي .
افغانستان ته داسې ديپلوماتيک ماشين ته اړتيا ده چې مسلکي، تحليلي، خپلواک او د اوږدمهالو ستراتيژيکو اهدافو پر محور ولاړ وي. که افغانستان وکولاى شي په دې درېيو محورونو کې ژور اصلاحات راولي، نو جغرافيه يې له ميدان څخه پُل ته د اوښتو واقعي ظرفيت لري .
په دې صورت کې، افغانستان کولاى شي د منځنۍ آسيا او سويلي آسيا تر منځ د اصلي نښلونکي په توګه راڅرګند شي، د انرژۍ په لويو پروژو لکه تاپي، کاسا–۱۰۰۰، سيمه‌ييزو رېل‌پټليو او د چين, منځنۍ آسيا, افغانستان په احتمالي دهلېزونو کې محوري رول ولوبوي . دا رول به يوازې د ترانزيټي عوايدو په معنا نه وي, بلکې د دوامدارو کارموندنو، د زيربنايي پراختيا، د سيمه‌ييز اعتبار او د اقتصادي خپلواکۍ په معنا به وي .
افغانستان به له مرستې‌محور اقتصاد څخه د سيمه محور، وصلوونکي او توليدي اقتصاد پر لور حرکت وکړي. خو که افغانستان د دې تاريخي فرصت په مديريت کې پاتې راشي، نور هېوادونه به يې ځاى ونيسي او افغانستان به د سيمې له ستراتيژيک نقشه ليک څخه د ترانزيټ په برخه کې په حاشيه کې پاتې شي . دا حاشيه‌ګيري به د راتلونکو نسلونو لپاره يوازې د اقتصادي شاتګ په معنا نه وي,بلکې د سياسي وابستګۍ، د ټولنيزو نابرابريو، د مهاجرت د څپو او د داخلي بې ثباتۍ په ژورېدو کې به هم خپل اغېز پرېږدي . په داسې سناريو کې، راتلونکي نسلونه به له خپل طبيعي موقعيت څخه د نه استفادې بيه پرې کوي, هغه بيه چې سرچينه يې جغرافيه نه، بلکې د جغرافيې ناسم مديريت دى.
افغانستان نن د تاريخي انتخاب په څلورلارې کې ولاړ دى . يا به د سياسي، اقتصادي او ديپلوماتيکو اصلاحاتو له لارې خپله جغرافيه د همکارۍ په پُل بدله کړي، او يا به د قدرتونو د سيالۍ په ميدان کې د قرباني رول ته دوام ورکړي .
لومړى انتخاب، افغانستان د سيمه‌ييزو دهلېزونو په زړه کې ځايوي, دويم انتخاب، هغه د حاشيې په تيارو کې ساتي . جغرافيه خپله نه د نعمت ضمانت کوي او نه د مصيبت, دا د انسان، دولت او ستراتيژۍ په لاس کې ده چې له هغې نه «فرصت» جوړ کړي او که «تهديد».
که افغانستان وغواړي چې د «سرزمين پيونددهندهٔ دو نيم‌قاره» په توګه خپل تاريخي رسالت ادا کړي، بايد د خپل سياسي ثبات، اقتصادي زيربنا او متوازن بهرنۍ تګلارې په درېيو ستنو کې نوې معادله جوړه کړي .
که داسې ونه شي، نور به زموږ پر ځاى دا معادله تعريف کړي, او دا به هغه ستراتيژيک زيان وي چې د راتلونکو نسلونو په اوږو به درونډ پاتې شي.

**آرشيف: مطالب نشر شدهٔ ن. جليل زاد**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ